# یار محمد خان زمانی



یار محمد خان زمانی

یارمحمد خان زمانی د استقلال د څلورمې جبهې د فاتح غازي میرزمان خان کونړي اوم ځوې په ۱۳۰۲ هجري شمسي کال د کنړونو د تیشې په کلي کې زیږیدلې دئ. په خپل کور کلي کې د وخت د مروجه علومو په زده کړه بوخت ؤو او لا تنکې ځلمې او ۱۸ کلن ؤو چې د خپلې نورې کورنۍ سره لومړې د دیارلس کلونو دپاره د دهمزنگ په جهنمي زندان کې د هاشم خان صدراعظم او سردار داؤد خان میلمه او بیا د اتو کلونو دپاره هرات ته تبعید شو.

یارمحمد خان زمانی په هرات او بیا وروسته په کابل، کراچۍ او پیښور کې د پښتني تجارتي بانک مامور، او استاځې او بیا په مرکز کې د هغه بانک د څیړنو عمومي مدیر ؤو. یار محمد خان زمانی د ثور د کرغیړنې کودتاه نه وروسته د ګوډاګي حکومت سره د مخالفت په تور لومړې د ببرک کارمل او بیا وروسته د نجیب الله په دوره کې دوه ځل زندان ته واستول شو. ده د زندان نه د خلاصیدو نه وروسته لومړې پیښور او بیا استرالیا ته هجرت وکړ.

یارمحمد خان زماني د ۱۳۸۱ لمریز هجری کال د حوت د میاشتې په څلورمه نیټه د ورپیښې شوې ناروغۍ له امله د ۷۵ کالو په عمر د ملبورن د ښار په یوه روغتون کې د دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. د ده جنازه وطن ته انتقال او په خپل پلرني ټاټوبې کې خاورو ته وسپارل شوه.